د افغانستان اسلامي امارت

**د ارشـــــاد، حـــج او اوقافـــــو وزارت**

**د مساجدو او حُسَینیو د ارشاد او انسجام لوی ریاست**

دجُمعې ورځې د خطابت موضوع او لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد

دمرکز او ولایاتو ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.

---

**۳/ محرم الحرام /۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۲۹/ جوزا/۱۴۰۵هـ، ش**

# د الله او د الله د رسول د حکمونو اطاعت ضروري دی، او شرعي حجاب هم یو الهي حکم دی چې باید په کلکه رعایت شي.

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی آله وصحبه أجمعین ومن تبعهم بإحسان إلی یوم الدین

أما بعد : قال الله سبحانه وتعالی: (وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْراً أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلالاً مُبِيناً).الاحزاب:(٣٦)

**درنو مسلمانانو !**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

د الله او د الله د رسول د حکمونو اطاعت دایمان برخه ده او د الله او دالله د رسول له حکمونو سرغړونه د مسلمان ایمان د زوال له خطر سره مخ کوي.

پر مسلمان واجب دي، چې د الله او د الله د رسول اوامرو باندې عمل وکړي او د الله او دالله درسول له نواهیو ځخه ځان وساتي.

د الله او د الله د رسول طاعت دین د اصولو څخه یو اصل دی او انسان ترهغې مسلمان کیدای نشي، ترڅو د الله تعالی او د هغه د رسول حکمونو ته تابع نشي او غاړه ورته کینږدي .

څوک چې د الله او دالله د رسول د حکمونو طاعت وکړي ، نو هغه کامیاب شو او د الله تعالی د عذاب څخه یې نجات پیدا کړ او څوک چې د الله او دالله درسول له حکمونو مخ واړوي او نافرماني وکړي ، نو هغه تاواني شو او ځان یې د الله تعالی قهر او عذاب ته وراندې کړ.

اللـه جل جلاله فرمایلي دي:( وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَأُولَئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ وَحَسُنَ أُولَئِكَ رَفِيقًا * ذَلِكَ الْفَضْلُ مِنَ اللَّهِ وَكَفَى بِاللَّهِ عَلِيمًا).النساء:(٦٩-٧٠)

ترجمه: او هر څوک چې حکم ومني د الله او د رسول (د الله) نو دغه کسان به له هغه چا سره وي(په جنت کې) چې انعام کړی دی الله پر دوی باندې چې انبیاء دي او صدیقان دي او شهیدان دي او صالحان دي او ښه دي دغه کسان له جهته د رفاقته ( چې ښـه ملګري دي). دا (ملګرتیا) فضـل (احسـان رحمت) دی له (جانبه د) الله نه او کافي دی الله ښه پوه (په ټولو نیتونو او عملونو هم).

په يو بل مبارک آيت کې راځي:(وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَخْشَ اللَّهَ وَيَتَّقْهِ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْفَائِزُونَ)النور: (٥٢)

ترجمه: او هر څوک چې اطاعت وکړي حکم ومني د الله او درسول د دغه (الله) او وويريږي له الله او ځان وساتي (له غضبه د ده) پس دغه (فرمان منونکي و يريدونکي) همدوی دي بري موندونکي د (جنت).په بل مبارک آيت کې راځي:(وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَإِنَّ لَهُ نَارَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا).الجن:(٢٣)

ترجمه: او هر هغه څوک چې نافرماني کوي د الله او د رسول صلی الله عليه وسلم د دغه (الله) نو بېشکه هغه لره دی اور د دوزخ حال دا چې تل به وي په هغه کې هميشه (چې نه به خلاصيږي ترې هيڅېږې).

مسلمان بايد د الله او دالله د رسول حکمونو او فيصلو طاعت وکړي، برابره خبره ده که هغه حکمونه د عقايدو په برخه کې وي، که هغه د عباداتو په برخه کې وي او که هغه د اخلاقو او آدابو په برخه کې وي او کله چې په يوه موضوع کې د الله او دالله د رسول حکم موجود وي ، مسلمان ته جائز نه دي، چې قولاً يا عملاً د هغې مخالفت وکړي او يا ورڅخه سرغړونه وکړي او مسلمان ته د الله او د الله د رسول د حکم په مقابل کې هيڅ اختيار نشته. الله جل جلاله فرمايلي دي: (وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْراً أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلالاً مُبِيناً).الاحزاب:(٣٦)

ترجمه: او نه دي (روا) هيڅ مؤمن سړي او نه هيڅ مؤمنې ښځې ته کله چې حکم وکړي الله او رسول د (الله) په يو امر کار کې چې وي دوی ته اختيار له امره کاره خپله (په خلاف د امر د الله او د رســول) هيڅ او هر څوک چې اطاعت نه کوي د الله او د رسول د (الله) پس په تحقيق گمراه شو په گمراهی ښکاره سره.

د الله تعالی د حکمونو طاعت په هر مکلف باندې فرض دی، هغه څوک چې الله تعالی هغه له عدم څخه وجود ته راوړی دی د الله تعالی ورباندې واجبي حق دی چې د هغه طاعت وکړي او حکمونو ته يې غاړه کيږدي او پرځان يې عملي کړي . الله تعالی فرمايلي دي:( يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَلا تُبْطِلُوا أَعْمَالَكُمْ).محمد: (٣٣) الموسوعة الفقهية الكويتية (٢٨/ ٣٢١)

ترجمه: ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعنې ای مؤمنانو) اطاعت کوئ د الله او اطاعت کوئ د رسول الله او مه باطلوئ تاسې عملونه خپل (په معاصيو سره).

اسلامي عقيده د الله او د الله د رسول په طاعت باندې بنا ده ،همداراز دالله او دالله د رسول د حکمونو څخه سرغړونه معصيت دی.

دالله او د الله د رسول د حکمونو څخه سر غړونه گمراهي ده او د الله تعالی د عذاب موجب عمل دی. الله جل جلاله فرمايلي دي:(وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ* وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُ يُدْخِلْهُ نَاراً خَالِداً فِيهَا وَلَهُ عَذَابٌ مُهِينٌ).النساء:(١٤)

ترجمه:او هر څوک چې ومني حکم د الله او د رسول دده نو داخل به کړي الله دغه (مطيع په هسې) جنتونو کې چې بهيږي به له لاندې د (مانيو او ونو د) هغو ويالې هميشه به وي (دوی) په دې (جنتونو) کې او دا (ننوتل جنت ته) مراد موندل (بری) دي ډېر لوی او هر څوک چې نافرماني کوي د الله او د رسول د ده او وځي له حدوده د الله نو داخل به کړي (الله) دغه (معتدي) اور ته چې همېشه به وي (دې) په هغه (اور د دوزخ) کې او (شته) ده ته عذاب ډېر سپکوونکی.

د الله طاعت لره حدود نشته ، بلکې پر هر مسلمان واجب دي چې د الله مطلق طاعت وکړي او هر هغه حکم ته غاړه کېږدي ، چې الله  وربانديې امر کړی دی او يا يې ورڅخه منع کړی ده.لکه چې الله تعالی فرمايلي دي:( يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ).النساء: (٥٩)

ترجمه:ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (ای مؤمنانو) حکم ومنئ تاسې د الله او حکم ومنئ تاسې د رسول (د الله)

صحابه کرامو رضي الله عنهم د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره په طاعت باندې بيعت کړی ؤ. په حد يث شريف کې راځي:
عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الْوَلِيدِ بْنِ عُبَادَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ [ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ ]قَالَ :« بَايَعْنَا رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ فِي الْعُسْرِ وَالْيُسْرِ وَالْمَنْشَطِ وَالْمَكْرَهِ». صحيح مسلم (٦/ ١٦)

ژباړه: د عباده بن صامت رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي چې مونږ بيعت وکړ د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره د هغه په سمع او طاعت باندې (په هر حالت کې) په سختۍ کې او په راحت کې ، په خوشحالی کې او په خپگان کې.

هغه کسان چې د الله د حکمونو څخه مخالفت کوي د الله ددُنيوي او أُخروي عذاب څخه دې وويرېږي. الله تعالی فرمايي:(فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَن تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ).النور: (٦٣)

ترجمه: پس ودې ويرېږي هغه کسان چې مخالفت کوي له امره (حکمه) د دغه (رسول زما) له دې نه چې ورسيږي دوی ته څه فتنه (آفت په دنيا کې) يا ورسيږي دوی ته عذاب دردناک (په آخرت کې).

**د استدلال وجه:** امام قرطبي رحمه الله ددې آيت په تفسير کې ليکلي دي: په دې آيت باندې فقهاء کرامو حجت نيولی دی چې په دې آيت کې امر د وجوب لپاره دی ځکه چې الله تعالی د مخالفت په مقابل کې وعيد ذکر کړی دی (أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذابٌ أَلِيمٌ) نو د الله تعالی د(حکم) مخالفت حرام دی.عبدالله بن عباس رضي الله عنه فرمايي چې په دې آيت کې د(الْفِتْنَةُ) څخه وژل مراد دی او امام عطاء رحمه الله وايې چې د(الْفِتْنَةُ) څخه زلزلې او مصيبتونه مراد دي. او په ( عن أَمْرِهِ)کې ضمير لفظ الجلاله ته راجع دی او ځينې وايې چې دا ضمير (الرسول) ته راجع دی. تفسير القرطبي (١٢/ ٣٢٢)

علامه أبو حفص عمر بن عادل ددې آيت په تفسير کې ليکلي دي:(وهذه الآيَاتُ تَدُلُّ على أنَّ من رَدَّ شيئاً من أوَامِرِ الله والرَّسُول فهُو خَارِجٌ عن الإسْلام ، سواءٌ رَدَّهُ من جِهَةِ الشِّرْكِ أو من جَهَةِ التَّمَرُّد) . اللباب في علوم الكتاب (٦/ ٤٥٦)

دا آيتونه په دې دلالت کوي چې څوک د الله تعالی او د هغه د رسول له اوامرو څخه څه شی رد کړي ، نو هغه د اسلام څخه خارج دی، برابره خبره ده چې هغه اوامر د شرک په وجه رد کړي او که دتمرد او سرکشۍ په وجه يې رد کړي.

هرکله چې په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې ايمان راوړل فرض دی ،نو د هغه د خبرو تصديق هم واجب دی او د هغه د حکمونو طاعت هم واجب دی .
الله جل جلاله فرمايلي دي:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَطِيعُواْ اللّهَ وَرَسُولَهُ وَلاَ تَوَلَّوْا عَنْهُ وَأَنتُمْ تَسْمَعُونَ* وَلاَ تَكُونُواْ كَالَّذِينَ قَالُوا سَمِعْنَا وَهُمْ لاَ يَسْمَعُونَ).الانفال:(٢١-٢٠)

ترجمه:ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (ای مؤمنانو) حکم ومنئ تاسې د الله او (حکم ومنئ) د رسول د الله او مخ مه گرځوئ تاسې له دغه (اطاعت د رسول الله څخه) حال دا چې تاسې اورئ (قرآن) او مه کيږئ تاسې(ای مؤمنانو) په شان د هغو کسانو چې وايي واورېده مونږ حال دا چې دوی نه اوري (په گټورو اورېدلو سره).

په یو بل مبارک آیت کې راځي: (وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ)الحشر:(٧)

ترجمه: او هغه څه چې درکړي تاسې ته رسول د الله نو واېي خلئ ويې نيسئ قبول يې کړئ او هغه څه چې منع کوي رسول الله تاسې له هغه څخه نو ببرته شئ ترې (مه يې غواړئ) او وويرېږئ له (عذابه د) الله په ځان ساتلو له معاصيو بېشکه الله سخت دی عذاب (دده).

د رسو الله صلی الله علیه وسلم د حکمونو طاعت په حقیقت کې د الله تعالی د حکمونو طاعت دی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حکمونو نافرماني په حقیقت کې د الله تعالی د حکمونو نافرماني ده. الله تعالی فرمايي:(مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ وَمَنْ تَوَلَّى فَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظاً).النساء:(٨٠)

ترجمه: هر چا چې حکم ومنلو د رسول (د الله) نو په تحقيق چې حکم يې ومنلو د الله او هر څوک چې وگرځيده (له اطاعته نو مه خپه کيږه ای محمده ځکه چې) نه يې لېږلی مونږ ته په دوی باندې ساتونکی (څارونکی د اعمالو).

په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « مَنْ أَطَاعَنِى فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ وَمَنْ يَعْصِنِى فَقَدْ عَصَى اللَّهَ». صحيح مسلم (٦/ ١٣)

ژباړه: د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: چا چې زما (د حکمونو) طاعت وکړ ، نو ده په حقیقت کې د الله تعالی طاعت وکړ او څوک چې زما (د حکمونو څخه ) نافرماني کوي ، نو دی په حقیقت کې د الله تعالی د حکمونو نافرماني کوي.د رسول الله صلی الله علیه وسلم طاعت ځکه د الله جل جلاله طاعت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالی د حکمونو او اوامرو مبلغ او رسوونکی دی . الله تعالی په فرمايلي دي:( وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَى * إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى)النجم: (٤)

ترجمه: او خبرې نه کوي (محمد) له هوا (خپلې) نه دی دغه (قرآن) مگر وحي ده چې ورته لېږلې شوې ده.

**شرعي حجاب هم يو الهي حكم دى چې بايد په كلكه رعيات شي:**

څوک چې د الله او د الله د رسول طاعت کوي ، نو پر هغه واجب دي چې شرعي حجاب په کلکه رعايت کړي؛ ځکه چې شرعي حجاب هم الهي حکم دی او څوک چې د شرعي حجاب رعايت نکوي په حقيقت کې داسې مسلمان د الله او دالله د رسول طاعت نکوي او د الله او د الله د رسول له طاعت څخه سرکشي او تمرد کوي ،او څوک چې د الله او د الله د رسول له حکمونو څخه تمرد کوي داسې کسان دې د خپل ایمان په زوال وویریږي.

د الله او د الله د رسـول طاعت يواځې لمونځ کولو پورې منحصر۔ نه دی، بلکې د ژوند په هره برخه کې د الله او دالله د رسـول دحکمونو طاعت په مسلمان نارينه او مسلمانې ښځې باندې فرض او لازم دی چې د هغې له جملې څخه يو هم شرعي حجاب دی.

د لومړنیو او وروستنیو دامت د ټولو علماوو، فقهاوو او مجتهدینو په اجماع سره شرعي حجاب په هر هغه ښځې باندې فرض دی چې سن د بلوغ ته ورسیږي او کومه ښځه چې بالغه شوه پر هغې فرض دي چې خپل ټول جسم پټ کړي.

کله چې مسلمانه ښځه بازار ته وځي پر هغې فرض دي چې پرته د سترګو خپل ټول جسم باندې داسې څادر واچوي چې د هغې جسم او د زینت کالي وربانديې پټ شي، لکه یو لوی څادر یا برقع او داسې نور.

دشرعي حجاب په فرضیت باندې الله او د الله رسول تأکید کړی دی او شرعي حجاب په فرضیت باندې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له زمانې څخه شروع صحابه کرامو، تابعینو ، تبع تابعینو د هر دور علماوو او مجتهدینو سلفاً او خلفاً تر نن ورځ پورې اجماع ده.

حجاب د دین له ضروري امور څخه دی او څوک چې د دین له ضروریاتو منکر شي هغه کافر دی او څوک چې شرعی حجاب رعایت نکوي هغه فاسق دی او باید چې توبه وباسي.

الله جل جلاله د هغه چا څخه ایمان نفی کړی دی چې د الله او د الله د رسول له طاعت ته شا اړوي او کله چې د الله او د الله حکم ته راوغوښتل شي، نو دوی له هغې مخ اړوي. الله تعالی فرمايي:(وَيَقُولُونَ آمَنَّا بِاللَّهِ وَبِالرَّسُولِ وَأَطَعْنَا ثُمَّ يَتَوَلَّى فَرِيقٌ مِّنْهُم مِّن بَعْدِ ذَٰلِكَ وَمَا أُولَٰئِكَ بِالْمُؤْمِنِينَ * وَإِذَا دُعُوا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُم مُّعْرِضُونَ).النور: (۴۷-۴۸)

ترجمه: او وايي (دا منافقان) چې ایمان راوړی دی موږ پر الله او پر رسول (د الله) او حکم منلی دی موږ (د الله او د رسول الله) بیا مخ ګرځوي (له اسلامه) یوه ډله له دوی وروسته له هغه (ایمان او اطاعت) او نه دي دغه (ګرځېدونکي) مؤمنان (صدقاً).او هر کله چې وبللی شي دوی الله او رسول د دغه (الله) ته لپاره د دې چې حکم وکړي دغه (رسول) په منځ د دوی کې ناڅاپه یو فریق ډله د دوی اعراض ډډه کوونکي دي (له حکم د رسوله) .

نو څوک چې د شرعي حجاب چې الهي حکم دی په کلکه نه رعایت کوي ، په حقیقت کې دالله او د الله د رسول حکمونو ته شا اړوي.

شرعي حجاب الهي حکم دی او باید په کلکه رعایت شي. الله جل جلاله فرمايلي دي:(يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَنْ يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا).الأحزاب:(۵۹)

ترجمه: ای نبي ووایه ښځو ته دې او لوڼو ته دې او ښځو (د نورو) مؤمنانو ته چې خواره دې کاندي پر ټولو ځانونو خپلو له ټکریو پړونو خپلو څخه. دغه (پټول د بدن) نژدې دي دې ته چې وبه پېژندی شي دوی (چې اصیلي دي) پس ایذاء به ونشي رسولی دوی ته (په زعم د وينځو) او دی الله ښه ښښونکی (د خطیاتو) ډېر رحم کوونکی.

**تشریح او توضیح:** ددې مبارک آیت له نزول څخه مخکې به ښځو خپل د سر ویښتان نه پټول او خپلې غاړې او د سینو ځینې برخې به یې نه پټولې ، الله جل جلاله هغوی ددې کار څخه منع کړلې او ورته یې امر وکړ چې خپل څادرونه دې په دغو برخو باندې راښکته کړي نو هرکله چې فُساق او هغه خلک چې په زړونو کې یې مرض دی ددوی عزت او حجاب ووینې نو ددوی له ځورونو څخه به ناامیده شي او دوی ته به په احترام قائل شي او ددوی له ځورونو څخه به لاس واخلي او الله جل جلاله دا حکم نور هم مؤکد کړ او وه یې فرمایل چې دا حکم د مسلمانانو ښځو ته هم بیان کړه (وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ). چې څوک دا استدلال ونکړي چې دا حکم یواځې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د کور په زنانه وو پورې مخصوص دی.

د (أَدْنَىٰ أَنْ يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ) آيت په تفسـير کې امام مقاتل رحمه الله وايي: يعنې دا کار ډېر نږدې ديته چې دوی به په خپل حجاب سره وپيژندل شي چې دا بدعمله ښځې نه دي، بلکې دا د عفت والا ښځې دي ، نو فاسقان به ورته ميلان نکوي. تفسير مقاتل بن سليمان (٣/ ٥٠٨)

ددې آيت دتحت اللفظي معنا څخه معلومېږي چې ښځې دې مخ او بدن په څادرونو باندې پټ کړي اوبيادې دضرورت درفع کولو لپاره له کوره بيرون راوزي.

د هغو صحيحو روا ياتو څخه چې ددې آيت په تفسير کې راغلي دي معلومېږي چې دا آيت د مخ په پټولو کې نازل شوی دی.

د پيغمبرعليه السلام په زمانه کې ښځو به لومړی خپل مخونه په څادر پټ کړل، بيا به بيرون راووتلی او په لوڅ مخ به بيرون نه راوتلی.

عن أم سـلمة رضى الله عنها زوج النبى صلى الله عليه وسلم قالت لما نزلت هذه الآية:{ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ}(خرج نساء الانصار كأن على رؤوسهن الغربان من السكينة وعليهن أكسية سود يلبسنها). تفسير ابن كثير / دار طيبة (٦/ ٤٨٢)

له ام سلمه رضي الله عنها څخه روايت دی ، هغه فرمايي کله چې داآيت نازل شو((يدنين عليهن من جلابيبهن) دانصارو زنانه به په داسې حالت کې له کورونو راوتلی چې سرونه به يي په تورو څادرونو پيچلي ؤ لکه چې ددوی په سرونو باندې مارغان ناست دي.

عن ابن عباس:( أمر الله نساء المؤمنين إذا خرجن من بيوتهن في حاجة أن يغطين وجوههن من فوق رؤوسهن بالجلابيب، ويبدين عينًا واحدة). تفسير ابن كثير. دار طيبة (٦/ ٤٨٢)

ژباړه: د عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې الله تعالی امر کړی دی د مؤمنانو ښځو ته کله چې دوی وځي له خپلو کورونو څخه د کوم حاجت لپاره ، نو دوی دې خپل مخونه پټ کړي د سر له طرفه دې پټ کړي په لويو څادرونو سره او برسيره دې پريږدي يوه سترګه .

عن ابن سيرين قال: سألت عبيدة عن قوله( قُلْ لأزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلابِيبِهِنَّ ) قال: فقال بثوبه، فغطى رأسه ووجهه، وأبرز ثوبه عن إحدى عينيه. تفسير الطبري (٢٠/ ٣٢٥)

ژباړه: امام ابن سيرين رح وايي ما دابوعبيده رح څخه ددې آيت د تفسير په اړه پوښتنه وکړه (يدنين عليهن جلابيبهن) ابو عبيده راته عملا حجاب وښود، هغه ټول سر او مخ پټ کړل او يواځې يوه سترګه يې ښکاره پريښوده.

ابوبکر جصاص چې دحنفي مذهب مفسر او مجتهد دی د مخ پټول د همدې آيت څخه استخراجوي او وايې: (في هذه الآية دلالة على ان المرأة الشابة مأمورة بستر وجهها عن الأجنبيين وإظهار الستر والعفاف عند الخروج لئلا يطمع أهل الريب فيهن).أحكام القرآن (٥/ ٢٤٥)

ژباړه: په دې مبارک آيت کې دلالت دی په خبره باندې چې پيغله ښځه مأموره ده په پټولو د مخ خپل د پرديو خلکو څخه او په ظاهرولو د پردې او د عفاف خپل په وخت د وتلو کې(د کوره)، ترڅو طمع ونکړي خاوندان د شک ددوی په اړه(د بدکارۍ).

دامام جصاص رحمه الله له وينا معلوميږي چې ځوانې ښځې د بيگانه سړو په وړاندې د مخ په پټولو مکلفې دي.

ابن عـابدين رحمه الله ليکلي دي: (وفي المحيط: ودلت المســألة على أن المرأة منهية عن إظهار وجهها للأجانب بلا ضرورة) رد المحتار (٨/ ٣٤٢)

ژباړه: او په محيط (د سرخسی) کې راغلي دي : او مسئله په دې دلالت کوي چې ښځه منع کړل شوې ده د ښکاره کولو د خپل مخ اجنبيانو ته پرته له ضرورته.

صحابياتو به چې کله کوم حکم واوريدلو هغې ته به يې لبيک ويلو او په ځان باندې به يې د الله او دالله د رسول الله عملي کولو.

په يو روايت کې راځی: عَنْ عَائِشَـةَ - رضى الله عنها - أَنَّهَا قَالَتْ:« يَرْحَمُ اللَّهُ نِسَـاءَ الْمُهَاجِرَاتِ الأُوَلَ لَمَّا أَنْزَلَ اللَّهُ ( وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ) شَقَقْنَ أَكْنَفَ - قَالَ ابْنُ صَالِحٍ أَكْثَفَ - مُرُوطِهِنَّ فَاخْتَمَرْنَ بِهَا». سنن أبى داود-ن (٤/ ١٠٥)

ژباړه: د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی ، هغه وايې الله تعالی دې په لومړنيو مهاجرو ښځو رحم وکړي ، هرکله چې دا ( وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ) آيت نازل شو، نو هغوی د خپلو څادرونو د څنډو ټوټې وشکولې او په هغې يې خپل سرونه، غاړې او سينې پټې کړې.

همداراز الله تعالی په يو بل آيت کې داسې حکم کړی دی: (وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلاَ يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلاَّ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ وَلا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاء بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاء بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَـائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُوْلِي الإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَاء وَلا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ).النور:(٣١)

ترجمه: او ووايه (ای محمده) ايماندارو ښـځو ته چې پټې دې کړي له (نامحرمو څخه) سـترگې خپلې او ښـه ټينگ دې وساتي فرجونه سـترونه خپل (د محرماتو په مقابل کې) او نه دې ښـکاره کوي زينت ښـايسـت (او ځای د ښايست) خپل مگر هغه چې ښکاريږي له دغه (زينت څخه په وخت د کسب او کار کې) او ښايي چې وا دچوي ټکري پړوني خپل پر گرېوانونو خپلو (چې ټټر يې ښـکاره نشي-) او نه دې ښکاره کوي زينت ښايست (او ځای د ښايست) خپل (هيچا ته) مگر لپاره د ميړونو (خاوندانو) خپلو (چې دغه د هغو دي) يا پلرونو (او نيکونو) خپلو يا پلرونو د ميړنو خپلو ته يا زامنو (او لمسيو) خپلو ته يا زامنو د ميړونو خپلو ته يا وروڼو خپلو ته يا زامنو د وروڼو خپلو ته يا زامنو د خويندو خپلو ته يا ښځو خپلو ته يا هغه چا ته چې مالک شوي دي (د هغه) ښي لاسـونه د دوی يا هغو تابعانو ته چې نه وي خاوندان د حاجت ښـځو ته له سـړيو نه يا هلکانو هغو ته چې نه وي خبر (دوی) په اسرارو د ښځو او نه دې وهي (دا ښځې) پښې خپلې لپاره د دې چې معلوم کړ شي هغه څيز چې پټوي يې دوی له زينت ښايست (گاڼې) خپلې او راجع شئ توبه وباسئ تاسې الله ته ټول ای مؤمنانو لپاره د دې چې تاسې ښېگڼه او خلاصی ومومئ (په دارينو کې).

په دې مبارک آیت کې الله تعالی ښځې د خپل زینت د ښکاره کولو څخه منع کړي دي او الله تعالی فرمایي چې ښځې دې لوی ځادرونه په خپلو ګریبانونو باندې راواچوي .خُمر د خِمار جمع ده په عربي کې هغه لوی ځادر ته ویل کیږي چې ښځې یې په ټول بدن او زینت باندې اچوي او هغه ورباندې پټوي. په یو بل مبارک آیت کې الله جل جلاله امر کوي چې ښځې دې په خپلو کورونو کې ژوند اختیار کړي او لکه د جاهلیت د زماني په شان دې لوڅ مخونه، لوڅ سرونه او شکیدلې ګریبانونه په زینت کې دې له کورونو څخه بیرون نه وځي. (وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى).الاحزاب:(۳۳)

ترجمه: او قرار ونیسئ (ای ښځو) په کورونو خپلو کې او مه ښکاره کوئ (ښایست خپل بېګانه سړیو ته) په شان د اظهار (او ښایست) د جاهلیت (د ښځو) ړومبنیو.

دصحابه کرامو دا عادت ؤ چې کله به په کومه موضوع کې د الله او د الله د رسول حکم راغی ، نو هغوی به یې کلک طاعت کولو.

محمد بن سيرين رحمه الله وايي، چې ماته وویل شول چې(قيل لسودة زوج النبي صلى الله عليه و سلم رضي الله عنها : مالك لا تحجين ولا تعتمرين كما يفعل أخواتك ؟ ! فقالت : قد حججت واعتمرت وأمرني الله أن أقر في بيتي فوالله لا أخرج من بيتي حتى أموت قال : فوالله ما خرجت من باب حجرتها حتى أخرجت بجنازتها). الدر المنثور (٦/٦٠٠)

چې حضرت سوده رضي الله عنها د نبي عليه السلام کور وداني ته وویل شول چې ته ولې حجونه او عمرې نکوې لکه څرنګه چې ستا خویندې (د رسول الله صلی الله علیه وسلم نورې بیبیانې) حجونه او عمرې کوي؟حضرت سوده رضي الله عنها ورته وفرمایل: حج مې هم کړی دی او عمره مې هم کړې ده او الله تعالی راته امر کړی دی چې په کور کې کینم ، قسم په الله چې زه به له خپله کوره ونه وځم ترڅو چې مړه شم. راوي وايې: قسم په الله چې د خپلې حُجرې څخه راونه وتله تر هغې پورې چې د هغې جنازه د هغې له کوره وویستل شوه.

**د شرعي حجاب شروط:**

هغه شرطونه چې په شرعي حجاب کې شتون یې ضروري دی په لاندې ډول دي:

۱-شرعي حجاب هغه حجاب ته ویل کیږي چې د زنانه ټول جسم یې پټ کړی وي.

۲-شرعي حجاب هغه حجاب ته ویل کیږي چې د حجاب لباس به په خپل ذات کې زینت ونلري.

۳-شرعي حجاب هغه حجاب دی چې تیکه به یې ډبله وي او د وجود اندامونه به ورڅخه نه ښکاري.

۴-شرعي حجاب هغه حجاب ته ویل کیږي چې تنګ نه وي ، په جسم پورې به چسپ او کلک نښتی نه وي او پراخه به وي.

۵-شرعي حجاب هغه حجاب ته ویل کیږي چې خوشبوی ونلري.

٦-شرعي حجاب هغه حجاب ته ویل کیږي چې دا کفارو د لباس سره مشابهت ونلري.

۷-شرعي حجاب هغه حجاب ته ویل کیږي چې د سړو له لباس سره مشابهت ونلري.

۸-شرعي حجاب هغه حجاب ته ویل کیږي چې د اغوستلو څخه به یې مقصد په خلکو کې شهرت پیداکول نه وي یعنی د شهرت لباس به نه وي.

**د بې حجابۍ ديني او دُنيوي زيانونه او تاوانونه:**

**بې حجابي د الله او دالله د رسـول د حکمونو څخه سرغړونه ، سرکشيـ او نافرماني** ده او څوک چې دالله او د الله د رسول د حکمونو طاعت نکوي ، نو هغه به جهنم ته داخل شي. الله تعالى فرمايلي دي:( فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ).النور:(٦٣)

ترجمه:پس ودې ويريږي هغه کسان چې مخالفت کوي له امره (حکمه) د دغه (رسول زما) له دې نه چې ورسيږي دوی ته څه فتنه (آفت په دنيا کې) يا ورسيږي دوی ته عذاب دردناک (په آخرت کې).

په حديث شريف کې راځي، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:«كُلُّ أُمَّتِي يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ إِلاَّ مَنْ أَبَى قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَنْ يَأْبَى قَالَ مَنْ أَطَاعَنِي دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ أَبَى». صحيح البخاري ت (١٨/ ٢٥٥)

ژباړه: زما ټول امت به جنت ته داخليږي پرته له هغه چا څخه چې انکاريې کړی وي. صحابه کرامو وويل: چا انکار کړی دی ای د الله رسوله!

نبي عليه السلام وفرمايل: څوک چې زما طاعت وکړ هغه به داخل شي جنت ته او چاچې زما(دحکمونو) څخه نافرماني وکړه ، نو په تحقيق سره چې هغه انکار وکړ.

بې حجابي د الله د لعنت او د الله تعالى د رحمت څخه د محروميدلو سبب گرځي. په حديث شريف کې راځي، نبي عليه السلام فرمايلي دي:«سَيَكُونُ فِي آخِرِ أُمَّتِي نِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ، عَارِيَاتٌ، عَلَى رُءُوسِهِنَّ كَأَسْنِمَةِ الْبُخْتِ، الْعَنُوهُنَّ، فَإِنَّهُنَّ مَلْعُونَاتٌ» المعجم الكبير للطبراني (٢٠/ ١١٠)

ژباړه: وي به زما په امت کې داسې ښځې چې جامې به يې اغوستې وي ، خو هغه به لوڅې وي، سرونه به يې په شان د بختي اوښ دکوبي په شـان وي، په دغو ښـځو لعنت ووايـاسـت ، ځکه دغه ښـځې لعنتي دي.(لعنت وربانديې ويل شـوی دی)
**بې حجابي د جهنميانو صفت دی.** رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:« صِنْفَانِ مِنْ أَهْلِ النَّارِ لَمْ أَرَهُمَا قَوْمٌ مَعَهُمْ سِيَاطٌ كَأَذْنَابِ الْبَقَرِ يَضْرِبُونَ بِهَا النَّاسَ وَنِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ» صحيح مسلم (٦/ ١٦٨)

ژباړه: دوه قسمه خلک دي د جهنميانو چې ما نه دي ليدلي. يو هغه قوم دی چې د هغوی سره به قمچينې وي په شان د لکيو د غواگانو وهي به وربانديې خلک او بل هغه ښځې دي چې جامې به يې په تن وي خو هغه به لوڅې وي.يعنې حجاب به نه رعايتوي او نازکه جامې به يې په غاړه وي.
**بې حجابي به د قيامت په ورځ کې تياره او تورتم وي.** رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:«مَثَلُ الرَّافِلَةِ فِي الزِّينَةِ فِي غَيْرِ أَهْلِهَا كَمَثَلِ ظُلْمَةِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ لاَ نُورَ لَهَا» سنن الترمذي (٣/ ٤٧٠)

ژباړه: مثال د هغې ښځې چې راښکونکې وي دلباس خپل د پرديو خلکو په منځ کې په شان د قيامت د ورځې د هغه تورتم دی چې روښنايي په کې نه وي.

**بې حجابه ښځې منافقانې ښځې دي.** رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:« خَيْرُ نِسَائِكُمُ الْوَدُودُ الْوَلُودُ الْمُوَاتِيَةُ الْمُوَاسِيَةُ إِذَا اتَّقَيْنَ اللَّهَ وَشَرُّ نِسَائِكُمُ الْمُتَبَرِّجَاتُ الْمُتَخَيِّلاَتُ وَهُنَّ الْمُنَافِقَاتُ لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْهُنَّ إِلاَّ مِثْلُ الْغُرَابِ الأَعْصَمِ ». السنن الكبرى للبيهقي. ط المعارف بالهند (٧/ ٨٢) وصحح اسناده المناوي في التيسير بشرح الجامع الصغير (١/ ١٠٧٨)

ژباړه: غوره ښځې ستاسې هغه د خاوند سره محبت كوونكى دي او د زيات اولاد زيږوونكي دي ، هغه د خاوندانو سره موافقت درلودونكي دي ، هغه د خاوندانو سره په خپل مال سره مرسته كوونكي دي او شريري ښځې ستاسې هغه پرديو ته د زينت ښكاره كوونكى دي او هغه تكبر كوونكې دي او همدوې منافقې ښځې دي ، داخل به نشي له دوى څخه جنت مگر په شان د هغه كارغه چې دواړه وزرې يا دواړه پښې يې سپينې وي.يعنې لكه څرنگه چې د سپينو پښو كارغه شتون ممكن نه دى دارنگه دداسې ښځو جنت ته داخليدل ممكن نه دي.

**بې حجابي رسوايي ده.** رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:« أَيُّمَا امْرَأَةٍ وَضَعَتْ ثِيَابَهَا فِي غَيْرِ بَيْتِ زَوْجِهَا فَقَدْ هَتَكَتْ سِتْرَ مَا بَيْنَهَا وَبَيْنَ اللَّهِ» سنن ابن ماجه (٢/ ١٢٣٤)، مسند أحمد (٤٢/ ٤٢٢)

ژباړه: كومې ښځې چې وويستلې خپلې جامې د خپل كور څخه علاوه په بل ځاى كې ، بيشكه دغې ښځې څيرې كړه هغه پرده چې ددې ښځې او د الله تعالى ترمنځ وه.

**بې حجابي د يهودو دسيسه ده.** يهود د ښځو د فتنو د لارې د امتونو په ماتولو كې ډير لوى لاس لري او ددوى په دې كار كې ډيره اوږده تجربه لري. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:«فَاتَّقُوا الدُّنْيَا وَاتَّقُوا النِّسَاءَ فَإِنَّ أَوَّلَ فِتْنَةِ بَنِى إِسْرَائِيلَ كَانَتْ فِي النِّسَاءِ » صحيح مسلم (٨/ ٨٩)

ژباړه: پس ځانونه وساتئ له دنيا څخه او ځانونه وساتئ له ښځو څخه ، بيشكه لومړنۍ فتنه په بني اسرائيلو كې د ښځو له امله وه.

**بې حجابي ډير پراخه شر دى.** څوک چې په شرعي نصوصو كې فكر وكړي او تير تاريخ ته نظر واچوي ، په دې به متيقن شي چې د بې حجابۍ څومره مفاسد دي او ددين او دينا لپاره څومره اضرار لري، خصوصاً كله چې د بې حجابۍ سره د سړو او ښځو ترمنځ اختلاط رامنځ ته شي.

**اقول قولي هذا ، استغفر الله لي ولكم ولسائر المسلمين**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**